مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی ۲۰۲۰/۰۹/۲۶

# زما ختین تاج محل

ګورګاني شاه جهان، د خپلې ایرانۍ محبوبې ارجمند بانو د اروا، د ارامۍ پخاطر د ترک او تاتارو، هند او سند، عجمو او عربو شل زره کارګران، مهندسان او کاشي کاران راټول کړل. د اترا پردیش ایالت، د اګرې په سوځونکي دوبي او باراني ژمي کې يې پنځلس کاله په مسلسل ډول د شپو په رڼو کولو او خولو په تویولو اړ کړل، ترڅو د خپلې نازولې، ممتاز محل ارمان پوره کړي. د یمن عقیق، د فارس یاقوت او د بدخشان لعلونه وکارول شول، چې د مینې، سوز او ساز دنیاګۍ روښانه شي. تاج محل آباد شو او په ګونبزو یې د سرو مښکو، سپینې کوترې په غومبر او ناڅاګانو سر شوې. د مغلي بادشاه سلامت د ابدي عشق په خاطر، د خاطرو ځلي هسک او دنګو مرمري منارو د ژوند ساندې پيل کړې. او پدې توګه د مینې او تراژیدۍ دغه شاهکار، پخپلې ښکلا او لرغونتوب سره، د نړۍ د اوو سترو عجائبو په کتار کې د خپل وجود او غرور شمله وترله.




ما له وړوکوالي راهیسې دا تلوسه درلوده چې د وفا دغه سمبول له نژدې څخه وګورم، په اړه يې نوره مطالعه وکړم او یو څه ورباندې ولیکم. خو په عین حال کې، زما د ځپ ځپ او کنډر کنډر هیواد هره سوځېدلې جونګړه، هره نړیدلې کوډله او د هر جومات ړنګ محراب او مناره، ما ته د مغلي امپراطور د تاج محل په کچه ګرانه او نیازبینه ده. زه نه زر لرم او نه زور. نه ګنج لرم او نه هنر. بس دغه له کنګي جوړ یو مات ګوډ قلم لرم چې په دې وروستیو څو کلونو کې مې اته شپیته څېړنې او مقالې ورباندې وکاږلې او د کاغذ مخ مې تور کړ.

ما په خپل دې کتاب (زما ختین تاج محل) کې یواځې هغه اوه څلويښت مقالې انتخاب کړېدي چې په مشهورو افغان سایټونو او ویبپاڼو کې خپرې او هره یوه يې په خپل وار سره، له دوه زره کرته زیاته کتل شوې او لوستل شوېده. له پیل تر پایه، ما هڅه کړې چې د سولې تت غږ، د خلکوغوږونو ته ورسیږي. زه د تورې له برکت، اهمیت او ضرورت سره اشنا یم، خو نن د تورې ځای قلم او د زغرې ځای ډرون نیولی دی. نو په کار ده چې د ټوپک د ماشې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په ځای، د قلم بڅې نوکې تيرې او رنګ يې لا رنګين شي. موږ په تيرو ځلوېښتو کلونو کې ډول ډول وسلې او نسخې و ازمايلې، خو د قلم او کتاب نسخه مو په تاخچو کې د تعويذ په شان پوښلې ساتلې ده.

نن زموږ په پلرني وطن کې هره خوا، ځولۍ ځولۍ غمونه دي، ويرونه دي او انګولاوې. هر لورى، بې خازې او ګمنامه قبرونه دي، سلګۍ، ويرونه او ماتمونه دي. نکريزې په لاس ناوې، بورې مينديې او ملا کړوپې پلرونه د خپلو ورکو عزيزانو د لارې خاپونه څاري. زه پدې بارو يم چې د روان خونړي ناورين يو لامل همدا دى چې په جګړه کې د ښکيلو اړخونو اکثريت، د جنګ او فرهنګ ترمنځ توپير نه کوي، بلکې جنګ يې فرهنګ ګرځولى دى. خو حقيقت دادى چې ژوند ښکلى او جنت ته تللې لارې د بې ګناه انسانانو په کوپړيو نه تيريږي، بلکې جنت ته ننوتل، نورو ته د ژوند په بښلو کې دى.

ټول پوهيږو چې په روانې پردۍ جګړه کې يوه ميرمن هم په انتحار او انفجار کې لاس نه لري، خو تر هر چا زيات همدوئ ځوريږي او کړيږي. ما د دی کتاب په شپږو مقالو کې زيار ويستلى چې په ټولنه کې د ميرمن د مقام او حيثيت په اړه بيا بيا يادونه وکړم چې ښځه حوره نده، هغه پوره انسان دى، اراده لري، غوښتنې لري او د خپل ځانګړي شخصيت او هويت مالکه ده. بايد په پام کې ولرو چې عقيده او عقده څنګ په څنګ مزل نه شي کولاۍ او ستونزه په دين کې نه ده، په ديندار کې ده.

د اسلام د ستر پيغمبر (ص) سنت او تلپاتې لارښوونې، د دوو راشدو خلفاوو بې جوړې رهبريت، د ابراهيم خليل الله شخصيت، جنتي فتواګانې او دزوخي جنګونه، د سياسي لوبغاړو بخملي او ململي سياستونه، د وجدان پيغرندې، د ډيورنډ په ليکه ميشت د اصحاب الکهف د لارې مدعيان، د درويزې کلتور، پټه کورونا او څرګنده بی وسی، د سعودي عربستان هڅې، د ايران مداخلې، د برما د مسلمانانو غميزه او د ترکې ټولټاکنې، نور هغه مضامين دي چې پدې کې کتاب راټول شويدي.

منم چې وړيا فيسبوک، يوټيوب او نورو ډله ايزو وسايلو د رواجي رسنيو او په ځانګړي ډول د کتاب لوستلو ګراف حتی په پرمختللو هيوادونو کې زښته زيات را ښکته کړيدی. له بده مرغه زموږ په هيواد کې د ځلورو لسيزو مسلسلو کور ړنګو جنګونو، بهرنيو يرغلونو او د بدنيته ګاونډيانو پوځي او کلتوري تاړاکونو د (ت) حرف د تورې، (ټ) د ټوپک او د (ب) حرف د بم سمبولونه وګرځول او پايله کې د کتاب او کتابتون سره علاقه، په خروار کې چيټاکۍ شوه. خو زه بيا هم ستاسې په خير، پدی عقيده يم چې کتاب ښه ملګرى، ګټوره سپما او په زړه پورې مشغولا ده. نو له ځانه سره مې وپتييله چې وړۍ په لاس د يوسف د خريدارانو په کتار کې ودريږم. د پښتو ژبې د څيړونکو او ليکوالانو له کاروان سره د منزل په لور، په مزل کې له دوی سره په خاړپوڅې ملتيا وکړم.

د ډيرو ښاغلو او منلو دوستانو هر يو، په جرمني کې د محترم شاعر او ليکوال استاذ مسعود فاراني، په کاليفورنيا کې د ليکوال او څيړونکي محترم ډاکټر عبدالرحمن زماني، په ډنمارک کې د اديب او سپرغۍ ويبپاڼې د چلوونکي محترم عبدالملک پرهيز او په ناروې کې د خپل ګران ژورناليست او د دعوت ميډيا او افغان سباوون له بنسټګر محمد طارق بزګر څخه نړۍ مننه کوم چې په خپلو مقدمو او سريزو سره يې دی کتاب ته رڼا او ځلا وبښله. د (هاشمي د څيړنې او ژباړې مرکز) ته هم کور ودانی وايم چې د کتاب په چاپ او ډيزاين کې يې خپله مسلکي او تخنيکي همکاري وکړه.

همدا رنګه د خپلې ميرمنې مننه کوم چې د کتاب په زياترو ليکنو کې ګټورې مشورې را کړې او د خپلې ننګور هم منندوئ يم چې د کتاب د پښتي (وقايې) د بهرني مخ لپاره يې په ډير زيار او مهارت سره د تاج محل دغه ښکلي انځور برابر او رسم کړ. خپل ځان د ټولو هغو درنو لوستونکو د پور، پورې ګڼم چې زما دغه مقالې يې د افغان جرمن آنلاين، تاند، روهي، دعوت ميډيا ۲۴، ټول افغان، سپرغۍ، لر او بر او بينوا په ويبپاڼو او سايټونو کې لوستي او مسلکي او تخنيکي مشورې يې راکړيدي.

بس همدومره به ووايم چې، قدرمنو دوستانو! د برياوو او خوښيو لارې مو، له لاره وو ډکې.

په مينه او مننه،
د سکرمنټو ښار، کاليفورنيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ